آریانا افغانستان آنلاین
http://www.arianafghanistan.com

مصطفی پسرلی

۲۰۱۸/۱۲/۲۵

غزل

# د وصال تږی

رنګ یم. تصویرونو کې مې ونغاړه

ګونګ یم په لفظونو کې مې ونغاړه

ډکه مې کعبه بیا له بتانو شوه

راشه تکبیرونو کې مې ونغاړه

ژونده! ځان راکاږمه زه ستا په لور

ژونده! خپل رنګونو کې مې ونغاړه

راوړه ای نسیمه د سحر پرخې

رنګ رنګ ګلابونو کې مې ونغاړه

تږی د وصال یم "پسرلیه" زه

راوړه دیدنونو کې مې ونغاړه

یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی د «آرشیف» فهرست ته، لار بشودنه تر لاسه کړی!



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com